اوونیزه
پرمختیا
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت
هیله بخښونکي خبرونه!
۱۲۵ مه گڼه پنجشنبه د وری ۷ مه ۱۳۹۹

# په تیره یوه اونۍ کې په خوست او کندهار ولایتونو کې ۵ ښوونځي جوړ شوي دي



۵

## په فراه کې د نهه میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د کانال چارې به ژر بشپړې شي



۶

## جریان کار اعمار ۴۱۱ متر دیوار استنادی به ارزش ۱۰ میلیون افغانی در کاپیسا



۴

## بغلان ولایت کې د څه باندې ۷.۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



۵

## په لغمان کې د بیلو کچو ۴۷۵ غالۍ اوبدل شوې



۳



## کندهار ولایت کې له ۲۴ اړو کورنیو سره څه باندې د ۱۳۶ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۴/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانکونو له لوري له ۲۴ اړو کورنیو سره څه باندې د ۱۳۶ زره افغانیو په ارزښت د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالی اړوند د محمد عیسی او اتفاق پراختیایي شوراګانو لخوا د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته ورانډې شوې چې غنم، اوړه، دال، مالګه او غوړي پکې شامل وو.

## تخار کې څه باندې د ۷.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال د جوړولو کار روان دی

۴/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري څه باندې د ۷.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال د جوړولو کار د تخار ولایت د ورسج ولسوالی اړوند د ده اسحاق، ده مظفر، چاقان او شاګان دریا خان کلیو د پراختیایي شوراګانو لخوا روان دی. د دغه کانال مجموعي اوږدوالی ۱۶۴۰ متره دی چې د پروژې د جوړولو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته به ۳۷۲۴ کاري ورځې رامنځته شي او د کلي ۲۵۹ کورنۍ به ترینه ګټه پورته کړي. د یادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۲۰۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي.



## په تخار کې د څه باندې ۳.۳ میلیونه افغانیو په لګښت د لمریزې(سولر) برښنا د یوې شبکې د غزولو کار روان دی

۱۳۹۹/ وری/ ۵

د څه باندې ۳.۳ میلیونه افغانیو په لګښت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لخوا د لمریزې (سولر) ۱۰ کیلوواټه برښنا د یوې شبکې د غزولو کار د تخار ولایت د د هزار سموچ ولسوالی اړوند د خواجه لتي کلي د پراختیایي شورا له لوري روان دی. د نوموړې پروژې د جوړولو کار ۸۰ سلنه پرمختګ کړی چې په بشپړیدو سره ۶۷ کورنیو ته به برښنا څخه د ګټې اخیستنې د لاسرسي زمینه برابره شي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې د جوړیدو په بهیر کې ۳۰۰ تنو ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته به ۶۳ کاري ورځې منځته شي.





## تکمیل کار ساخت یک دیوار محافظوی به ارزش ۲ میلیون افغانی در پنجشیر

۵ حمل ۱۳۹۹

کار ساخت ۹۲ متر دیوار محافظوی به ارزش ۲ میلیون افغانی از سوی برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای ده کلان ولسوالی شتل ولایت پنجشیر تکمیل شده است.

این دیوار که طی ۱۵ روز کاری ساخته شده است، حدود ۳۷۲ خانواده از مزایای آن مستفید می‌شوند.

# په هرات کې د ۶۰۰ پراختیایي شوراګانو له خوا د کرونا ویروس په هکله د پوهاوي کمپاین تر سره شو

د۱۳۹۹ کال د وری ٦

د کلیو د بیارغونې پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د هرات ولایت په شپږو ولسوالیو کې د کرونا ویروس په هکله کمپاین تر سره شو.

ددې کمپاین په لړ کې د ولسوالیو او د کلیو د پراختیایي شورا ګانو خلکو ته د کرونا ویروس په اخته کیدو او ددې خطرناک ویروس د پراخیدو د مخنیوي په هکله معلومات وړاندې کړل . دغه شوراګانو د ولسي تړون ملي پروګرام د لارښوونې له مخې او د کلیو د بیارغونې پراختیا وزارت له لوري د چمتو شویو معلوماتي کڅوړو له لارې خلکو ته معلومات ورکړل.

د هرات ولایت د یو شمیرولسوالیو اوسیدونکو د ولسي تړون ملي پروګرام د پراختیایي شوراګانو د پوهاوي پروګرام هرکلی وکړ او ژمنه یې وکړه چې په دې لاره کې به مبارزه وکړي چې د دوې په سیمو کې دکرونا ویروس د پراخیدو څخه مخنیوي وشي.



# په لغمان کې د بیلو کچو۴۷۵ غالۍ اوبدل شوي

وری/ ۴/ ۱۳۹۹

دکلیودبیا رغونې اوپراختیا وزارت ، دکلیوالوښځوداقتصادي پیا وړتیا پروګرام چې دیوکال اوشپږو میاشتو راهیسې دلغمان ولایت مرکزاو قرغیوولسوالۍ کې فعالیت کوي ددغه پروګرام له لارې ۳۷۰ تنوبیرته راسیتندنکوکډوالوکورنیوته دغالۍ اوبدلوکارګاوې اوخام موادورکړل شوي وو. دیوکال اوشپږمیاشتو په موده کې ۴۷۵غالۍ دنوموړې پروګرام له لوري تولید شوې دي او دا تولید میاشت په میا شت زیا تیږي. اوس عملاً دغالۍ اوبدلو چارې دمارکیټ له غوښتنوسره سمې په ښه کفیت سره روانې دي اوپه مارکیټ کې دبهرنیو غالیو پرتله خوبرابره په لوړقیمت سره پلورل شوې دي، دیاد پروګرام له لارې په کوردننه یوشمیرکورنیو ته دکارزمینه برابره شوې ده .





## د ننگرهار ولایت په کوټ ولسوالۍ کې به د ۲۵۰ تنو لمونځ کوونکو لپاره یو جومات جوړ شي

۱۳۹۹ / وری/ ٦

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام د جوماتونو د جوړونې د څانګو له لوري به د دغه جومات په جوړولو یو میلیون افغانۍ لګښت راشي. د دغه جومات جوړیدو چارې ۷۰ سلنه پرمختللې دي چې د کار په بهیر کې به یې ۳۵۰ کاري ورځې د ځایي خلکو لپاره رامنځته شي. د ولسي تړون ملي پرورگرام د جوماتونو جوړونې د څانګې پروگرام له لوري به په راتلونکي کې د کوټ ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۲۰ جوماتونه جوړ شي.

## خوست کې څه باندې د ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه محافظوي دېوال د جوړولو کار بشپړشویدی

۱۳۹۹/ وری / ۴

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري څه باندې د ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه محافظوي دېوال د جوړولو کار د خوست ولایت د مندوزیو ولسوالۍ اړوند د عزیز خېلو کلي د پراختیایي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شویدی. د دغه دیوال مجموعي اوږدوالی ۱۸٦ متره دی چې د پروژې د جوړولو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۱۳٦۰ کاري ورځې رامنځته شوې چې د کلي ۱۱۴ کورنۍ ترینه ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د نوموړي محافظوي دیوال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۱۲۰۰ جریبه ځمکه د سیلاوونو له ګواښ څخه خوندي شي.



## جریان کار یک شبکه‌ی آبرسانی به ارزش ٤.١ میلیون افغانی در مرکز ولایت کاپیسا

۵ حمل ۱۳۹۸

کار ساخت یک شبکه‌ی آبرسانی به ارزش ۴.۱ میلیون افغانی از سوی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای رستم خیل کره تاز مربوط مرکز کاپیسا با سهم ده درصدی مردم محل جریان دارد.

این شبکه مجهز به سیستم سولر پمپ بوده و دارای ذخیره ارتفاعی با ظرفیت ۲۰ متر مکعب آب و دیوار احاطه می‌باشد که با تکمیل کار آن، ۳۰۰ خانواده به گونه‌ی مستقیم و ۵۰۰ خانواده‌ی دیگر به گونه‌ی غیر مستقیم به آب آشامیدنی صحی دسترسی خواهند یافت.





## جریان کار اعمار ٤١١ متر دیوار استنادی به ارزش ۱۰ میلیون افغانی در کاپیسا

۵ حمل ۱۳۹۹

کار ساخت ۴۱۱ متر دیوار استنادی به ارزش ۱۰ میلیون افغانی از سوی دفتر انسجام برنامه‌های ساحوی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای چاشت کوهی دره کلان ولسوالی نجراب جریان دارد.

گفتنی است که با تکمیل کار دیوار یاد شده، حدود ۲۵۰ خانواده به صورت مستقیم و ۲۰۰۰ خانواده به گونه‌ی غیر مستقیم از مزایای آن بهره‌مند می‌شوند.



## په ننګرهار کې څه باندې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په لګښت د کرنیزو اوبو لګولو کانال د جوړیدو کار روان دی

۱۳۹۹/ وری/ ۵

څه باندې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په لګښت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام د کرنیزو اوبو لګولو کانال د جوړولو کار د ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ اړوند د صاحب زاده ګانود کلي د پراختیایي شورا له لوري روان دی. دغه کانال ۶۸۰ متره اوږد والی لري. د نوموړي کانال د کار په بهیر کې ماهرو اوغیر ماهرو کاریګرو ته به ۲۰۰۰ کاري ورځې رامنځته شي. د یادونې وړ ده چې دغه کانال به ۱۰۰۰ جریبه ځمکه خړوبه کړي.

## په تیره یوه اونۍ کې په خوست او کندهار ولایتونو کې ۵ ښوونځي جوړ شوي دي

وری/ ۷ / ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې په خوست او کندهار ولایتونو کې ۵ ښوونځي بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.
د ا ښوونځي چې د خوست ولایت په تنیو، نادرشاه کوټ او ګربزو ولسوالیو
او د کندهار ولایت په پنجوایي او ډنډ ولسوالیو کې جوړ شوي ۱۰ یا شپږ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې لري په دې سره به د ۱۲۰۰ کورنیو زده کونکو ته د زده کړو وړ چاپیریال رامنځ ته شي.
سربیره پر دې د کندز په دشت ارچي ولسوالۍ کې یو بل ښونځی چې ۱۵۹ زده کونکي په کې زده کړه کوي کار یې ۹۰ سلنه بشپړ شوی دی چې ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.









## بغلان ولایت کې د څه باندې ۷.۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

۶/ وری/ ۱۳۹۹

د د اوبو رسولو دغه پروژه د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د ۷ میلیونه، ۴۹۱زره او ۶۹۵ افغانیو په لګښت سره چې لس سلنه بودجه یې د ټولنې دخلکو او ۹۰ سلنه یې د یونیسف اداري لخوا ورکړل شوه، د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ په جوی کلان کلي کې د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه جوړه د خلکو ګټنې ته وسپارل شوه.
د اوبو رسولو په دغه پروژه کې د ۱۳۰ مترو په ژوروالي سره د یوې څاه کیندل، د یوې ذخیرې جوړول او د اوبو رسولو د لمریز سیستم نصبول شامل وو. د یادې شوې شبکې په جوړېدو سره د څه باندې ۵۰۰ کورنیو او دوو ښوونځیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې.



## په ننګرهار کې له ۴۵ اړو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه

وری/ ٦/ ۱۳۹۹

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري له ۴۵ اړو کورنیو سره د ننګرهار ولایت د خوږیانیو ولسوالۍ په دوو کلیو معظم او ستر کمبو کلیوالي شوراګانو لخوا د ۲۷۲۰۰۰ افغانیو په ارزښت خوراکي توکو مرستې وشوې. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې شامله وه، کلیوالو ته وړاندې شوې چې غوړي، اوړه، دال، چای او بوره پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمی لوړې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکولخوا د بې وزلو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

## په فراه کې د نهه میلیونه افغانیو په ارزښت  د اوبو لګولو د کانال چارې به ژر بشپړې شي

٦ / وری / ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزپروګرام له لوري د فراه ولایت په مرکز پورې اړونده سیمه ننګ آب کلي کې د څه باندې ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د۹۰۰ متره اوږد  اوبو لګولو کانال  کار چې په دوو برخو ویشل شوی، ژر به بشپړ شي.

د دې پروژې په کاري بهیر کې ۳۰۸۴ کاري ورځې رامنځته کیږي، ۱۴۵ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوبوي او د سیمې ۱۹۱۸ اوسیدونکي به ترې ګټه اخلي.

